# د آنلاین امر/اردر کولو په وخت کې د نغدو پیسو ارزښت ګټه

کله چې تاسو په Walmart.com کې تازه میوې او سبزیجات اخلئ، نو وروستی لګښت کیدای شي بدلون ومومي د توکو وزن پورې اړه لري چې توکو وزن خومره دی. د امر/اردر بشپړولو په وخت، د پلورنځي کارمندان/کار کوونکي باید د توکو وزن وکړي ترڅو اصلي وزن او وروستی لګښت معلوم کړي.

یوازې اټکل شوی لګښت به د امر/اردر په وخت کې د **WICShopper اپلیکیشن** کې ولیدل شي. یوځل چې کارمندان/کار کوونکي میوې او سبزیجات وزن کړي، دوی نرخ تعدیل کړي، کوم به چې په اپلیکیشن کې د بیرته ورکولو په توګه ښکاره شي. د توکو سمه/صحیح وروستی لګښت به په اپلیکیشن کې ښکاره شي.

## مثال په توګه:

تاسو د آنلاین پورته کوني امر/اردر لپاره ایوکاډو، کیلې او مڼې انتخاب کړئ.

په دې مثال کې، د پلورنځي کارمندان/کار کوونکي اړتیا لري چې کیلې او مڼې وزن کړي. پلورنځي د ځینو میوو او سبزی، لکه ایوکاډو، په هر واحد/یونټ کې نرخ ټاکي. د پلورنځي کارکوونکي د دې توکو وزن کولو اړتیا نلري، نو بیه یې یوشان پاتې کیږي.

لاندې بکسونه د وروستي لګښت په پرتله د امر/اردر اټکل شوی لګښت ښیې.

**د چیک آوټ (پلورنځي کې د توکو لپاره پیسې ورکولو ځای) په وخت کې د وزن شوي توکو اټکل شوی لګښت**


- ایوکاډو: 0.70$
- کیلې: 0.28$
- مڼې: 0.79$

**د چیک آوټ (پلورنځي کې د توکو لپاره پیسې ورکولو ځای) په وخت کې د وزن شویو توکو وروستی لګښت**


- ایوکاډو: 0.70$
- کیلې: 0.20$
- مڼې: 0.58$

لاندې ستاسو **د پیرود تاریخچې یو مثال دی چې په WICShopper اپلیکیشن** کې د آنلاین امر/اردر بشپړولو وروسته چې وزن شوي میوې یا سبزی پکې شامل دي.


**د تعدیلاتو دمخه چارج/پیسې**




**د تعدیل شویو خواړو بیرته پیسې ورکول**




**وروستی لګښت**




**په یاد ولرئ چې:** پلورنځي به له تاسو څخه له یو ځل څخه زیات پیسې ونه اخلي. پلورنځي یوازې ستاسو Cash Value Benefit (د نغدو ارزښت ګټې) څخه وروستی لګښت کټ/منفی کوي.

**DOH 961-1324 CS April 2025 Pashto**

په یوه بل فارمټ کې د دغه سند د غوښتنې لپاره 1-800-841-1410 ته زنګ ووهئ. د کڼو او هغو پیرېدونکو لپاره چې په اوریدو کې ستونزه لري، مهرباني وکړئ 711 (Washington Relay) سره اړیکه کې شئ یا دلته بریښنالیک ولیږئ WIC@doh.wa.gov.

Washington State Department of HEALTH